## پنځم خلاصه ګزارش:

د مترقي ځوانانو سازمان او د نوی ډیموکراتیک جریان پنځوسمه کلیزه د ... په ولایت کی د یوی غونډی په ترڅ کي ولمانځله سوه. د ستیج شا (د افغانستان نوي دموکراتیک جریان د بنسټ ایښودلو پنځوسمی کلیری د لمانځلو غونډی ته ښه راغلاست!) په ۱ پر ۲ متره لوحه ښکلی سوی وه. او تر څنګ یی لاندی دوه شعارونه لیدل کیدل:

### غوړیدلی او پرمختللي د وی د افغانستان نوي دموکراتیک غورځنګ !

### مخ پر وړاندی د هر اړخیزه ملی ولسی او انقلابی مقاومت د امپریالیست ښکیلاک ګرو او لاس پوڅی رژیم او یرغلګرو او ښکیلاک ګرو داعشی مرتجعینو پر وړاندی د پیل په لور!

د وخت د لړوالی او د امنیتي ګواښونو سره سره غونډه د سهار په نهو بجو را بلل سوی وه او ګډونوال یی په ډیر شوق او مینې سره په غونډه کې ګډون وکړ. که څه هم غونډی ته ډیر کسان رابلل سوی وه خو د بعضو امنیتی مشکلاتو په اساس د ولسوالی څخه ډیر کسان ونتوانیدل چه غونډی ته راورسیږي.

غونډه د ملګری (ن) لخوا پرانستل سوه. ملګری په پیل کې ګډونوالو ته دهرکلي په ترڅ کې غونډی ته ددوی راتلو نه مننه وکړه.

ملګری (ن) تر وینا د مخه د شعلۀ جاوید پخواني یوه لس ګڼي جریده ګډونوالو ته وویشل او له دوي څخه وغوښتل چه دا جریده په غور سره وګوري او لا اقل یوه یوه مقاله له خان سره ولولي څو د دې جریدي په لیدو او لوستلو سره هغه پخواني انقلابی روحیه او د بزم ډک عزم چه په زرکونو انقلابیونو تردی نامه لاندی مبارزه کړې دی او خپل سرونه یی د خلکو د ارمان په لار کي قربان کړی او په ډیر میرانه او پرته له کوم ډاره سرښندونو ته تیار وه، بیرته ژوندی سی.

هغه نه پس ملګری (ن) د د افغانستان نوي دموکراتیک جریان د بنسټ ایښودلو پنځوسمی کلیری د لمانځلو په مناسبت وینا وکړه او وروسته د افغانستان نوي دموکراتیک غورځنګ د بنسټ ایښودلو پنځوسمی کلیزی د لمانځلو کمیته ولوستله. غونډه د غرمی په ۱۲ بجو پای ته ورسیده. که څه هم دا غونډه په دغه محل کې د ۱۳۵۳ کال نه وروسته لمړی غونډه وه خو ډیر مثبت پایلی لرلی.

د دی غونډی دګډونوالو څخه دوه ګروپونۀ، یو په مرکز او بله دولایت په یوه ولسوالی کې، خپله همکاري او تیاری اعلان کړ چه د ملګری (ن) لخوا هرکلی وویل سو او پردوی باندی ځینی اساسی مواد وویشل سول او د دوی څخه وغوښتل سول چه دا اسناد په پوره غور سره ولولی او نور ملګری هم جذب کړی؛ او وعده وکړه چه مونږ به پخپل وار سره د دوی سره اړیکی تینګ ساتو او دوی ته به پخپل وخت سره مرسته او لارښوونه کوو.

❊❊❊❊❊❊❊❊

### د افغانستان نوي دموکراتیک جریان د بنسټ ایښودلو پنځوسمی کلیری د لمانځلو په مناسبت

نن د ۱۳۹۴ ل کال د تلی دیارلسم د مترقی ځوانانو سازمان د بنسټ ایښودلو کلیزه سره سمون خوری. د مترقی ځوانانو سازمان په یوعمومي ناسته کي په کال ۱۳۴۴ د تلی په دیارلسمه کي خپل شتون اعلان وکړ. د سازمان مبارزاتي خط او مشي د ارتجاع ضد، رویزیونزم ضد، امپریالیستی ضد او سوسیال امپریالیستی ضد علمي خط او مشي وه. د دي مبارزاتي خط او مشي خپلول د ملګری اکرم یاری په مشری صورت ونیوله. د دي اصولي او فعالي خط اومشي پراساس د مترقی ځوانانو سازمان ډیر ژر وکولاي سو چه د افغانستان نوي دموکراتیک جریان په لاره واچوي. له هغه ځایه چه شعله جاوید جریده د نوي دموکراتیک ا فکارو خپرونکي په عنوان د نوي دموکراتیک جریان په خپریدو او پرمختګ کي موثره ونده ولوبوله نوموړی جریان د شعله جاوید په نوم مشهور سوه، تردی چه ترننه هغه ټول شخصیتونه او تشکیلات چه د فکري او سیاسي لحاظه د افغانستان نوي دموکراتیک جریان په ۴۰ لمریزه لسیزه کي تاریخی ریښه لری د شعله يي په نامه یادیږی.

د افغانستان د مترقی ځوانانو سازمان او نوي دموکراتیک جریان په دری واړه ډګرونو د ارتجاع ضد، رویزیونزم ضد او امپریالیزم او سوسیال امپریالیزم ضد د خپل اصولي او فعاله مبارزه په مخ وړله. په همدی علت د افغانستان نوي دموکراتیک یا د شعله جاوید جریان په تیزی سره د هیواد په لوی سیاسي توده یی او کثیر ملیتی

جریان باندی بدل سو، چه ډیر مبارز روڼد اندی(روشنفکران)، کارگران او د ښاری وړه بوژوازی د مختلفو ملیتونو څخه د خپل په رهبری او صفونو کي ځای ورکړ. په دی علت وه چه د ارتجاع او وطنی رویزیونیستانو او امپریالیستانو او سوسیال امپریالیستانو د عمیق نفرت او کینه سره مخامخ سو.

د افغانستان نوي دموکراتیک جریان باندی د ارتجاع د یرغل لمړی قربانی هغه محال وسوه چه لا جریان خپل قد نوه پورته کړی او شپي پاڼي (شبنامی) او مخفي نیمه مخفي مبارزي پرمخ وړلي. دا ملګري د جریان د کارګري منسوبینو څخه وه چه د شپي پاڼي د خپرولو په وخت کي د ارتجاع د پولیسو لخوا نیول شوي وه او د دي مرتجع قاتلانو او سړي وژونکو لخوا تر شکنجو لاندی سا ورکړه. دویمه حمله پر جریان د ارتجاع سانسورچیانو لخوا د مهم تبلیغاتي وسیله د غصب لپاره تر سره سوه. شعلۀ جاوید پس له ۱۱ ګڼو د خپریدو د ۱۳۴۷ل کال په پیل کي توقیف سوه. د ارتجاع دریمه حمله پر جریان د دویمي حملی په تعقیب او لږ وخت وروسته و سوه چه (د ضربه غنډ) د ارتجاع پولیسو د جریان تر رهبری لاندی کارګري روڼد اندو په لاریون وسوه. د دي حملي په ترڅ کي مظاهره سرکوب او زیاد شمیر شعله یي روڼد اندي او کارګران، په خاص ډول د نوي دموکراتیک جریان رهبران ونیول او په زندان کي واچول سول.

د سازمان عمدتاً اصولی خط او مشی کمزوری اړخ او د ظاهرشاه د ارتجاع سرکوب د نوي دموکراتیک جریان پروړاندی لاس په لاس له یوي خوا په جریان کي د انشعاب لپاره لاره جوړه کړه او له بله پلوه د سازمان د بنسټ ایښودونکي خط او مشی په نسبت دیوه متفاوته خط او مشی د جوړیدو باعث سوه. اما دا بربنډ انشعاب په جریان کي او د سازمان دننه دملګری اکرم یاری در خط او مشی په مقابل کی یو متفاوتي خط او مشي جوړیدل، ونسو کولای چه د جریان په مبارزاتي کړنو پراخ ناوړی اثر ولری. ولی د جریانی او سازمانی فشارونه باعث سو چه ملګری اکرم یاری په یو خوږمن ناروغي اخته سی او ونسوکولای چه سازماني فعالیت ته دوام ورکړي، او مجبور سو چه سازمانی فعالیت پریږدی. وروسته له هغی په سازمان کي هغه متفاوت خط او مشي چه دننه په سازمان کی جوړه شوی وه پر سازمان واکمنه سوه.

کله چه د افغانستان نوي دموکراتیک جریان په ۱۳۵۱ لمریز کال د کابل پوهنتون کي په یوه غنډه، دګلبدینی اخوانی ارتجاع لخوا تر یرغل لاندی راغی د جریان یو فعال غړی (سیدال سخندان) ژوند له لاسه ورکړ. په همدا کال په هرات کي د یوی مظاهری په لړی کي د یوه زده کونکي شکمن مرګ تور د افغانستان خلک دموکراتیک ګوند د خلق ځانګی لخوا په شعله یانو واچول سو. وروسته لدی پیښو، جریان او سازمان په دوه ځانګو دمدافعین او انتقادیون په نامه وویشل سو. د مترقی ځوانانو سازمان او غیر اصولي خط او مشي او غیر فعاله نوي رهبری نه یوازی پر دی مشکلاتو بری ونه مومه بلکه د دی پر وړاندی یی ډال وغرځاوه. په نتیجه کي سازمان په تیزی سره د انحلال په لورسوق سو، جریان ټوټه ټوټه سو، د سازمان او جریان زیات شمیر غړی غیر فعال سوه او منحرف اکونومیستان چه ډیری انتقادیون یی تشکیلوه د جریان په پاتی شوی فعالینو باندی مسلط سوه.

نوي دموکراتیک جریان چه ټوټه شوی او پاشلی وه، نه یوازی چه د ۱۳۵۲ل کال د چنګاښ ۲۶ داودخان کودتا، چه د شوروی سوسیال امپریالیستی لاس پوڅی رویزیونیستانو او خپله د (شورویانو) په موافقی او مدد وسوه، مخ نیوي ونسوکړای بلکه د داودخانی استبداد سره په مواجهه، چه د جمهوریت تر نامه او ماسک لاندی صورت نیوله، له وړاندی نه هم لا ډیر پاشلی او ګډوډ سوه او پاتی شونی یی د انحراف او انشعاب په لور پرمخ ولاړل او د افغانستان په سیاسي مبارزاتي ډګر کي حاشیه ته ولاړل.

د ۱۳۵۷ د ثور ۷ کودتا د شوروی سوسیال امپریالیزم درویزیونیست لاس پوڅی له خوا چی د "شوروی" نظامی مشاورانو او دهغوی هوایی ښکیلاکګرو ځواک په مرسته تر سره سوه او د کودتاچیانو سړی وژونی او سرکوبګری د هغوی سیاسي مخالفانو په ضد په افغانستان کي شروع کیدل- د مترقی ځوانانو دسازمان پخوانی غړی، دنوي دموکراتیک جریان او د هغه له متن نه پورته سوی تشکیلات او حتا غیر فعال او د موجوده تشکیلاتو سره مربوط شعلیانو په شمول- باعث سو چه بیاځلی مبارزاتي جوش او خوزښت د جریان په پاتي شونی کي پیداسی او دجریان دپاتی شونی تر منځ د یووالی غوښتنه منځ ته راولی. اما دا غوښتنه روښانه سیاسي-

ایدیالوژیک بنسټ او پراخ توده یی ډګر نه درلوده. د افغانستان نوي دموکراتیک جریان نه یوازې په سیاسي ډګر کي په کلونو وروسته پاتی وه بلکه د بین المللی انقلابی غورځنګ له پرمختګونو هم شدیدا وروسته پاتی وه او پخوانی انحرافات او کمبودات یی لا ډیر او پراخ سوی وه. طبیعی ده چه دا پراخ او ژور کمبودات او انحرافات او تفرقه اوپاشلیتوب نه یوازې جنبش ونسوکړاي د ثور اوومی کودتا او بیا د شوروی سوسیال امپریالیستانو ښکیلاک او یرغل پر وړاندی اصولی او زورور عکس العمل وښیی، بلکه ځینی برخی یی دنوي رویزیونیستی ناپاکي لمنی ته پریوتل او په بشپړ ډول د نوي دموکراتیک غورځنګ له دایری بیرون ووتل.

په هر حال دا متشتت او متفرق غورځنګ نه په سیاسي-ایډیالوژیک لحاظ د سوسیال امپریالیستی یرغلګرو او وطنی رویزیونیستی لاس پوڅی په مقابل کی او نه د غربی امپریالیستانو او ارتجاعی منطقه یی ځواکونو پوری تړلی ځواکونو ورځ تر بله زیاتوالی په وړاندی او نه د توده یی او نظامی لحاظه اصولي مبارزې ته چمتو وه. سره لدی هم د کودتایی رژیم او سوسیال امپریالیستی اشغالګرانو پر ضد په مقاومت او مبارزه کي په لس ګونو زرو د خپلو غړی او رهبران قربانی کړه. طبیعی ده چه دداسی جنګ پایله پرته له ترخی ماتی نه بل څه نه وه. ددی ترخی ماتی پرهارونه دومره ژور دی چه تر اوسه - یعنی د ملګری اکرم یاری داصولي خط اومشي میراث وړونکي، پرمخ وړونکي او تکمیلونلی خط د بیاځلی جوړیدو نه دری لسیزو په تیریدو، او د هغه پرمختګ او ورو ارتقا – لا تر اوسه تازه دی او درد او خوږمن سوزې یی تر اوسه هم احساسیږی.

مونږ د دری لسیزو په سیاسي- نظامی بدلونونو کي ( سوسیال امپریالیزم یرغلګر او ښکیلاکګر ځواک له هیواده وتل او بیا د (شوروی) ښکیلاک نه پاتی پاتی سوی رژیم ړنګیدل، د جهادی تنظیمونو منځ ته راتګ، د اسلامی دولت جوړیدل او د جهادیانو تر منځ ورانوونکی کورجنګی، د طالبانو اسلامی تحریک جوړیدل، په هیواد کي د هغوی چټک نفوذ او د خارجی ارتجاع او امپریالیستانو په حمایت امارت اسلامی جوړیدل، د په پای کی د امریکایی امپریالیستانو د هغوی شریکانو یرغل پر افغانستان، دهغوی لخوا د طالبانو اسلامی امارت ړنګیدل، د لاس پوڅی واکمنی جوړیدل او بیا د طالبانو ارتجاعی مقاومت د یرغلګرو او لاس پوڅی رژیم پروړاندی ) د امپریالیستانو او مرتجعیونو پر وړاندی یوضعیف سیاسي غورځنګ پاتی یواو تراوسه مو ونسوکولای چه د ښکیلاک ګر او د هغوی لاس پوڅو پروړاندی یو پراخ او هراړخیز مقاومت بسیج، سازماندهی او رهبری کړو. په دی ضعیف نا مناسب او نا مساعد حالت اخته کیدو یو مهم لامل، د سوسیال امپریالیستی ضد مقاومت کي زمونږ د غورځنګ ترخه ماته ده چه تر اوسه درد او سوز یی زمونږ ځان او تن ځوروی او روح روان مو مړاوی کړی دی.

اما لدی درد او مړاویتوت نه نجات نه یوازې اړین دی بلکه قطعاً ممکن او قابل د حصول دی. نباید هیر سی چه زمونږ غورځنګ په تیر دری لسیزو کي، زمونږ نیمه لاری او دښمن ښادونکي ملګرو د رویزیونیزم او طبقاتی او ملی خیانت منجلاب ته پریوتوسره سره د امپریالیستی او ارتجاعی دښمن په خاص ډول د امریکایی امپریالیستی ښکیلاکګر، د هغوی شریکان او لاس پوڅی رژیم پروړاندی تل د ارتجاع ضد او امپریالیستی ضد موضع نیولی او د افغانستان ټولو سیاسي ځواک څخه د مخه دجهادیانو د ارتجاعی حاکمیت، د طالبانو قرون وسطایی او ارتجاعی امارت، د امریکاییانو اود هغوی شریکو امپریالیستانو یرغل او ښکیلاک اولاس پوڅی رژیم پروړاندی ولاړ سوی دی. د یوه مرتجع لیکونکي په خبری مونږ تل (دولت ستیزه) پاتی یو. بناءً مونږ د امپریالیستی ښکیلاک او لاس پوڅی رژیم پروړاندی د اوسنی ضعیف سیاسی مخالفت ارتقا او پراخیدو په یو ملی ولسی او انقلابی مقاومت دپاره، یو فکری او سیاسی بنسټ لرو، په دی شرط چه د خپل نیمګړتیاوی له منځه یو سو، پر خپل اصولیت او علمی فکری او سیاسي صحیح والی اتکا وکړو او د اصولي خط او مشي پر مبنا د غورځنګ د ګډوډی او تفرقی سره مبارزه وکړو.

د امپریالیزم، ارتجاع او اپورتونیزم پر ضد مبارزه، د انقلابی مبارزی اساس اوبنسټ تشکیلوی. اما دا بنسټ او اساس، د اجتماعی پرمختګ په مختلفو مراحلو کي، په عمده او غیر عمده اشکالو کي ښکاره کیږی.

په حاضر حال کي د امپریالیزم نظامی، سیاسي، اقتصادی، فرهنګی او اجتماعی واک پر افغانستان او په عمده ډول هراړخیځ امریکایی امپریالیست ښکیلاګر او د هغوی شریکانو واک پر افغانستان متبلور سوی دی. همداسی د

ارتجاع واک په عمده ډول دښکیلاک ګرو لاس پوڅی رژیم په واسطه په هیواد مشخص سوی دی. علاوه پردی باید وویل سی چه متاسفانه تر اوسه امپریالیستی ښکیلاک ګر لا له هیواده نه دی شړل سوی او لاس پوڅی رژیم نه دی ړنګ سوی چه د یو خارجی ارتجاعی دولت (داعش) یرغل پر افغانستان وینو او ورځ تر بلی دښلیلاکګری دایری د پراخیدو شاهدان یو. دوی مجموعا په حاضر حال کي د هیواد او د هیواد د خلکو عمده دښمنان شمیرل کیږی او د اوسنی ملی ولسی انقلابی مقاومت او د اینده هر اړخیز ملی ولسی او انقلابی مقاومت نښی بلل کیږی. په حقیقت کي اپورتونیست تسلیم سوی رویزیونیستان د هیواد او د هیواد د خلکو دعمده دښمنانو په جمله کی راځی او باید د ملی ولسی انقلابی مقاومت نښه وبلل سی.

د هیواد او د هیواد د خلکو عمده دښمنانو پروړاندی مقاومت عمده پیژندل په دی مانا نه دی چه دغیر عمده دښمنانو پروړاندی نباید مبارزه وسی. اما دا مبارزه باید د عمده دښمنانو پروړاندی د مقاومت عمومي منافو تابع وی او د هغه په هم جهتی او هم اهنګی سره پر مخ ولاړ سی. د نورو امپریالیستی او خارجی ارتجاعی دولتونه او د هغوی وابستګانو پر وړاندی مبارزه باید په همدی نوع مبارزه کی حساب سی او پر مخ یوړل سی . پر دی سربیره دهیواد مترقی انقلابی غورځنګ داوسنی منسوبینو تر منځ اپورتونیستی او غیر رویوزینستی میلان پر وړاندی هم مبارزه اړینه ده او نباید له یاده ووځی.

د مترقی ځوانانو سازمان د پنځوسمی کلیزی دلمانځلو کمیټه، سره له تمام محدودیتونو او کمزورتیا کوشش کړی دی چه د هیواد په ځو مختلفو نقاطو کي ددی ورځی وړ لمانځنه وکړی. له ټولو دوستانو او ملګرو نه چه په دی کار او هلو ځلو کي مونږ سره مدد کړی مننه کوو او له هغو ټولو ملګرو او دوستانو ته چی ننی غنده کي ګډون ګړی دی ښه راغلاست وایو. امید لرو چه دا لمانځ غنده زمونږ د غورځنګ د معرفی لپاره یو وړوکي ګام وی؛ هغه غورځنګ چه پخپل پنځوس کلن مبارزاتي عمرکي بار بار خپل مشران او رهبران له لاسه ورکړی او د امپریالیزم او ارتجاع پر وړاندی په مبارزه او مقاومت کي تر اوسه ژوندی دی، سا کاږی او په وینو کي دپروت هیواد په مبارزاتي ډګر کي تر اوسه پوری حضور لری. که د هیواد نوي دموکراتیک غورځنګ د بنسټ ایښودلو پنځوسمی کلیزی غونډه وسی کولای د دی حضور د صحیح خپریدو او ارتقا د تثبیت لپاره په آینده کي یو اصولي او روښانه ګام وی، مونږ د غرور او افتخار احساس کوو او اعلان کوو چه هغه ټول ملګری او دوستان چه په دی غونډوکي حاضر دی په دی مبارزتی سرلوړوالی کي مونږ سره برخه لری.

غوړیدلی او پرمختللي دی وی د افغانستان نوي دموکراتیک غورځنګ!

مخ پر وړاندی د هر اړخیزه ملی ولسی انقلابی مقاومت د امپریالیست ښکیلاک ګرو او لاس پوڅی رژیم او یرغلګرو او ښکیلاک ګرو داعشی مرتجعینو په مقابل کی د پیل په لور!

د افغانستان نوي دموکراتیک غورځنګ د بنسټ ایښودلو پنځوسمی کلیزی د لمانځلو کمیټه

د ۱۳۹۴ کال دتلی ۱۳ (د۲۰۱۵ کال د اکتوبر ۵ )

********

دملګری"ن." دوینا خلاصه سوی متن

نن د ۱۳۹۴ د تلي ۱۳ نیټه ده. دا هغه تاریخي او د ویاړ نه ډکه نیټه ده چه پنځوس کاله مخکی د یو لړ شمیر مخکښو انقلابیونو له خوا د مترقی ځوانانو سازمان بنسټ کیښودل سو. دا سازمان په داسی حال کی جوړ سو چه له یوی خوا د سلطنتی کورنی یوه خاینه ډله پر خلکو باندی ناروا ظلمونه کول او خلګ د امپریالیزم په سر کي د امریکایی او انګلیسی امپریالیستانو د لاس پوڅو له خوا زورول کیدل او زندانونو ته استول کیدل او له بلی خوا د روسی رویزیونیستانو له خوا په نړی کي د غورځنګونو او مبارزینو د انحراف لپاره د کارګرانو، کروندګرو او

خواري کښانو د ایدیولوژی د دفاع تر نامه لاندی د بورژوازی په لور هڅول. چه بیلګه یی په افغانستان کې د روسانو د لاس پوځي ګوند یعنی (د خلق دیموکراتیک ګوند) جوړیدل وو.

د مترقی ځوانانو سازمان د نه ستړی کېدونکي مبارزو او هڅو په نتیجه کې په سلګونه انقلابي ځوانان دی سازمان ته جذب سول- دوه کاله وروسته یعنی ۱۳۴۶ ل د تلی ۱۳ دویمه کنګره جوړه سوه او د دی کنګری فیصله دا وه چه یوه ملی ډیموکراتیکه جریده او بله دننه په سازمان کی یوه کمونیستی جریده خپره کړی. دا په داسی حال کې دی چه ظاهرشاه تش په نامه ډیموکراسی اعلان او سیاسی ګوندونو او سازمانونو کولای شو چه د دغه قانون څخه په استفادی خپلی جریدي په دولتی مطبعی چاپ او بیایی خپري کړیږ د مثال په ډول د خلق جریده، د ګهیځ جریده، د ملت جریده، د پروانه جریده او ډیر نور دولتی او نا دولتی جریدی خپریدلې.

د مترقی ځوانانو سازمان رهبری هم دا فیصله وکړه چه یوه ملی ډیموکراتیکه علنی جریده ولری. په لمړي سر کې د دی سازمان غړو غوښتل چه د ندای خلق د جریدی په نامه اجازه تر لاسه کړی تر څو وکولای سی چه د فقید عبدالرحمن محمودی یاد او تګلاره تازه وساتی او وکولای سي چه دا لاره په سیاسی - ایدیولوژیک ډګر کې انقلابی او متکامله مخ ته بوځي. ظاهر شاهی رژیم دا غوښتنه رد کړهُ ځکه چه فقید عبدالرحمن محمودی او ملګرو یی د ندای خلق جریدی خپریدلو سره د حاکم نظام په مقابل کې خپلو مبارزو ته د مرګ تراخیری سلګی پوری ادامه ورکړې وه.

د مترقی ځوانانو سازمان د مرحوم رحیم محمودی تر مسئولیت لاندی د شعلۀ جاوید جریده وړاندیز وکړ چه دا غوښتنه ومنل سوه او شعلۀ جاوید پخپلو خپرونو پیل وکړ.

د مترقی ځوانانو سازمان او نوي ډیموکراتیک جریان د افغانستان د خلګو د دښمنانو او د خلګو په جامه کې د هغوی دشمنانوغولونکې څیری خلګو ته وپیژندلی او پدی لار کې یو ګړی هم په قراره نه وه ناست، او پدی لاره کې یی قربانی هم ورکړې. د مترقی ځوانانو دا زیار او هود ډیر په وطن مین او انقلابی ځوانان را جلب کړل او د افغانستان په ګوټ ګوټ کې په ځانګړی ډول مکتبونو او پوهنتونونو کې یی ډیر پلویان پیدا کړل او د لاریونونو په دوران کې به په زرګونه انقلابی نجوني او ځوانان د شعلۀ جاوید تر بیرغ لاندی را غونډیدل.

د مترقی ځوانانو سازمان او د نوي ډیموکراتیک جریان یعنی شعلأ جاوید انقلابي دریځ د نورو سیاسی ګوندونو په پرتله ډیر ځوانان جذب او پلویان یی ډیریدل او هم د خاینانو وطن پلورونکې د ظلمونو افشا کول په ډیر ځواک سره مخ ته روان وو. همدا علت وو چه دوخت د لاس پوځی رژیم (فیوډالانو- کمپرادورانو- بروکراتانو ) دښمنی له یوی خوا او د "روسی" رویزیونیستانو او په هغوي پوری تړلي مزدوران او اخواني خاینانو دشمنی له بلی خوا د خلګو او د هغو د دښمنانو صفونه سره جلا او د ټولو خلګو ته یی د دوی کرغیرني څیري بربنډ سول. د دغه دښمنیو په نتیجه کې په انقلابی شعله یانو حملي پیل سوي، رهبران یی زندانونو ته واستول سول او نور یی په علنی لاریونونو کې د وطن او خلګو د دښمنی ډلو له خوا پر اخوډب کې ټپیان او شهیدان سول چه مثالونه یی ډیر دي.

د ظاهر شاهی خاین رژیم لخوا د مترقي ځوانانو سازمان د غړو او دهبرانو زنداني کېدل، د اخوانیانو د حملی په نتیجه کې د شعله یانو ټپی کېدل او دسیدال سخندان وژل کېدل او د "روسی" ښکېلاکګرو او د دوي لاس پوڅو خاینانه حملی په شعله یانو باندی، په زرګونه انقلابیون شهیدان او په زندانونو کې واچول سول. چه دغه مرګونی حملو او ضربوسره، شعله یان وپاشل سول او هم په سیاسی-ایدیولوژیک لحاظه سره په مختلفو ډلو وویشل سول. خو دا د ویاړ خبره ده چه دا بیرغ اوس اوچت دی او د شعله جاوید خپرونه ادامه لری چه اوس د شعلۀ جاوید د څلورمی مرحلی خپرونی د انقلابیونو په خدمت کې دی.

ددی وینا په پای کې دملګری "ن" له خوا د افغانستان نوي دموکراتیک غورځنګ د بنسټ ایښودلو پنځوسمی کلیزی د لمانځلو کمیته اعلامیه ولوستل شوه.